انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۰۵/۰۹

# پرښتي موری!

که زه مي زړه موری دا ستا په قدموکی کیدم  که زه می سترګي درته دواړه په پښو کی کیدم
موری که ستا د قدم خاوری په لیمو کی کیدم  که د دنیا ټولي خوښۍ ستا په لاسو کی کیدم
ادا به نکړم ستا احسان د یـوې شپې موری!
تانـه قربان په زر کـرت شـم پرښتي موری!
تا ډیر منلي کړاوونـه زمـا د پاره په ځان  تا قبول کړی بـد وختونه زمـا د پـاره په ځان
هـم د ی منلي شوګیرونه زمـا د پـاره په ځان  په تورو شپو کی منزلونه زمـا د پاره په ځان
چی زه نارام وم ته نارامه وې خوږې موری!
تانـه قـربان شـمـه افغانـي پرښـتـي مـوری!



موری تا تل مینه راکړی خو ما غم در کړی  ستا د احسان په بـدلـه کي مـا ستـم درکړی
تا راتـه اوښکـي بهــولي مـا ماتــم در کړی  موری تشویش می ډیر درکړی امید کم درکړی
لا دی هم زړه له میني ډک دی لوې درني موری
ادا به نکړم ستا احسان د یــوی شپــي مــوری
تا رښوولـه سمه لار خوزه په لار نه شوم  د خپلو خلکو او وطـن مـی خدمتګار نه شوم
دبل مزدور شومه خپل کورته می پېکار نه شوم  لا هـم کومـه ګناهـونـه تــوبــه ګار نــه شوم
ویره مـی داده چی به خنګه ما بخښي موری
تانه قربان شــم زما موری پرښتي مـــوری

ماته په یاد دی چی ویل به دی، ای گرانه زویه — گزار به نه کوی په چا باندی لـه شانه زویه

په افغانی پت کی به ژونـد کوی افغانه زویه — ظلـم بـه نـه کـوی انسان بانـدی انسانه زویه

شوې رانه هیرې ستا خبرې ستا کیسې موری

دا گناه گار بچی به اوس څنگه بخښې موری

غلیم می پریښوده د خپل ورور نه می سر غوڅ که — ما په چړو د استبداد مـور ځیگر غــوڅ که

په بی رحمی می د سپین ږیری پلار تټر غوڅ که — د انسانـي مینـې پیونـد مـې له بشر غوڅ که

څکه تباه شوم ستا ازار شـو راپسې مـوری

دا گناه گار بچې به څنگه و بخښې مـوری؟




اپریل ۳۰/۲۰۰۷